Norwegian Directorate of Immigration

## هغه کسانو لپاره څرګندوني چه غواړی په ناروې کې خپل کورنیو سره یو ځای شي

یو نوی هیوا د ته هجرت کول ځانته هم نوی امکانات لری او هم نوی خندونه. د یو هوسا ژوند لپاره ضروری ده چه ددغه نوې هیواد په هکله معلومات تر لاسه کړو. مګر له بده مرغه څخه ځیني کسان چه ناروې ته هجرت کوی، ستونځو سره مخامخ کیږی. په همدې خاطر ضروری ده چه د دغې هیواد دمقرراتو سره ځان چمتوکولو په هکله معلومات ولرو. دغې لاندني معلومات پرهغو موضوعاتو باندې رڼا اچوی چه ممکن د یو شمیر کسانو لپاره چه ناروې ته هجرت کوی، رابطه ولری.

قوانین

د ناروې قانون پر ټولو هغو کسانو باندې چه په ناروې کې اوسیږی، تطبیقیږی. که چیرې د ناروې د قانون او د مذهبی قوانینو په منځ کې کوم توپیر پیښ شي، نو د ناروې قوانینوته ارجعیت یا لومړیتوب ورکول کېږي. په ناروې کې د ښځو او نارینو په منځ کې برابری یو اساسی ارزښت ګڼل کېږي چې د ناروې په قانون کې درج شوی دی. نر او ښځه د تحصیل، کار، کلتوری او تخصصی پراختیاد امکانالو په ساحه کې یو شان حق لری. مذهبی، نژادی ا وجنسی تعصبات ممنوع دئ.

واده

هیڅوک حق نلری چه څو ښځې ولری

هېڅوک حق نلری چې د یوې ښځې څخه پرته له نورو سره هم واده وکړی. هغه کسان چه څو ښځې لری امکان لری چې د حبس د مجازاتو سره مخامخ شي. او که چیرې یو سری ناروې څخه بهر څو ښځې ولري؛ نو یوازې یوه ښځه یې حق لری چه ناروې ته راشي.

د ناروې د قانون په اساس دواړه میره او ښځه مکلف دي چې هم د ماشومان او هم د یو بل څخه سرپرستی وکړی. واده شوې کسان مکلف دي چې دخپل د کورنۍ د اقتصادی وضعیت په هکله یو بل ته اطلاع ورکړي.

## طلاق

د طلاق اخیستلو په اړه نر او ښځه برابر حق لري.

[pashto]

د طلاق مقررات  په ناروې کې هیڅ کوم جنسی، نژادی او مذهبی تبعیض نشته، نه د طلاق اخیستلو په اړ کې او نه د اقتصادی د تصفیې په رابطه طلاق څخه وروسته.  دا هر یو هیواد او د هغې قانون پورې مربوط دئ چې هغه طلاق چې په ناروې کې واقع شو ی ده، په رسمیت پیژنی یا نه. د ماشومانو ورځنی څارنه او مسؤلیت د طلاق څخه وروسته، دواړو والد ینو ته یو شان دی.

## ماشومان

**په ناروې کښې ماشومان ځانګړی حقوق لری.**

د ناروې د قانون سره سم، ټول هغه کسان چې عمر یې د ۱۸ کلنی څخه کم وی، د ماشوم په شمیر راځی او والدین باندې حق لری چې هغوی څخه لازم مراقبت وکړي. ماشومان هم حق لری او هم مکلف دي چې شپږکلنی څخه نېولی تر لسمه صنفه پورې ښوونځی ته لاړشي. والدین مؤظف دی چې خپل ماشومان ښوونځی ته ولیږی.

که چیرې ماشومان یو داسې شرایطو کې ژوند وکړې چې د هغوی صحت یا رشد ته نقصان ورسوی، نو حکومت لازم اقداماتو ته لاس پورې کوي. ماشومانو ته جسمانی جزا ورکول ممنوع ده. یعنې د مثال په توګه د ماشومانو وهل ممنوع ده.

## خشونت یا ظلم

هر هغه کسان باندې  چې خشونت یا ظلم کېږی، حق لري چې حکومت څخه مرسته وغواړي. په شمول د هغو کسانو چې د کورنی د غړیو لخوا تر ظلم لاندې وي. په کورنیو کښې دننه ظلم په ناروې کې د مجازاتو وړ دئ.

دا پولیس لپاره اهمیت لری چې کورنی ظلم تحقیق او مجازات یې  کړی. جسمی او روانی تشدد نه پرته، تهدید، جبر او خپل مسؤلیت نه ادا کول هم  په ناروې کې د ظلم یا تشدد  په حساب راځی.  هغه کسان چې خپل ښځه یا ماشومانو باندې ظلم کوی امکان لری چې  تر اتو کالو پورې حبس ته محکوم شی. د کورنیو د غړو په مقابل کې د تشدد څخه کار اخیستل تر نورو تشدد ونه په مقایسه، سخته سزا لری.

هغې ښځې ته چې د کورنی د یو ځای کیدو پر بنسټ باندې په ناروې کښې ورته د اوسیدلو اجازت ورکړ شوی‌دئ اوتر  جسمانی یا روانی تشدد یا ظلم لاندې قرار لری، نو کولای شي چې ځانته د ځانګړی اقامت اخیستلو لپاره عریضه وکړي، په شمول د هغو کسانو چې خپل میره سره یو ځای نه اوسیږی.

هغه کسانو ته چې د کورنی د یو ځای کیدلو پر بنسټ باندې د اوسیدلو اجازت ورکړ کیږی، کولای شی چې په نورماله توګه د دریو کالو د تیریدو څخه وروسته ددایمی اوسیدلو لپاره عریضه ورکړی.

د دیر شیدید خشونت په حالاتو کښې پولیس سره پدې نمبر کښې ارتباط ونیسئ: ۱۱۲ . هغه ښځې چې دېر شدید ظلم لاندې قرار لری کولای شی چې عاجل مرکز( krisesenter) سره په تماس شی. عاجل مرکز هغه ښځې سره مرسته اوهغوی څخه دفاع کوی چې د ظلم لاندې وي.

## ضروری معلومات

### ویزه

ناروې هم په شنګن قرارداد کښې شامل دئ. شنګن ویزه پدې شرط باندې ورکول کیږی چې نوموړی د ویزې د ختمید و سره منطقه پریږدی. او که چېرې نوموړې د ویزې د ختمیدو څخه وروسته په ناروې کښې پاتې شي، نو کیدائ شي چې ددې هیواد څخه وشړل شی. او دا امکان هم شته چې په آینده کښې د ویزه یا د اسیدلو د عریضې په اړه ستونځی سره مخامخ شی.

د ملاقاتو د ویزی په اساس باندې څوک کارنشی کولای. د بهرنیانو لپاره دفترونه دوېزې په اړه مفصل معلومات ورکوی.

### د کار- او اوسیدلو اجازت

تاسو کولائ شي چې د کار او د اوسیدلو لپاره خپل عریضې ناروېژی خارجه چارو دفترو ته ور وسپارئ.

څوک چې د ښوونځې ددورې د ختمیدو څخه وروسته درې کال مسلکی تحصیلات ولری، نو کولای شي چې د یو مسلکی شخص په صفت د کار لپاره غوښتنه وکړی.

د کا ر او د اوسیدلو اجازت په ناروې کښې معمولا باید هریو کال تمدید شی. د دریو کلونو څخه وروسته هر څوک کولائ شي چې د دایمی اوسیدلو لپاره غوښتنه وکړی.

ددایمی د اوسیدلو اجازت یو محدود وخت دپاره ندئ اوتمدیدولو ته ضرورت نه لری. د خارجي د چارو اداري به تاسوته مفصل معلومات ورکړی. دغه آدرس څخه هم معلومات تر لاسه کولائ شی: www.udi.no

# په ناروې کښې

[pashto]

په د يرو ولاياتو کښي مهاجرينو لپاره يو رهنما موجود دئ. د مهاجرينو لپاره رهنما هغه ځوک دئ چي مهاجرينواو پناه غوښتونکو سره د ورځنی مسايلو په اړه داوطلبانه کمک، مشوري او لارښوونه کوی.

د مهاجرينو د رهنما په واسطه تاسو هم د خپل منطقه او هم د ناروي د ټولني په اړه معلومات تر لاسه کولائ شي، اوهم ستا سو نارويژی ژبه تقويه کيږی. دغه پروګرام مفت دئ. د مهاجرينو د رهنما په اړه د ډيرو معلوماتو دپاره خپل کمون سره ارتباط ونيسئ.

په اکثرو ولاياتو (کمون) کښي مهاجرينو لپاره د ناروېژی د ژبي کورسونه موجود دی. مفصل معلومات دپاره خپل کمون سره ارتباط ونيسئ.

آدرسونه:

- مهاجرينو لپاره مستقلي مرستي www.seif.no

- سره مياشت د جبری نکاح په اړه مرستي او مشوري ورکوی. تليفون: ۸۱۵۵۵۲۰۱، د سهار د ۹ بجي څخه تر مازديګر د ٦ بجو پوري.

- په ناروي کښي د ټولو عاجلومرکزونو نمبر ددغه آدرس څخه تر لاسه کولائ شي: www.krisesenter.com

- د کار دفتر: د کار يابی په اړه هر چېرته چي اوسيږئ، دغه دفتر سره رابطه ونيسئ: www.aetat.no

- د بهرنيانو اداره(UDI): ۲۳۳۵۱۵۰۰ ـ www.udi.no

- پوليس: ۰۲۸۰۰

عاجل تيلفونونه:

اطفاييه: ۱۱۰ ، پوليس: ۱۱۲ ، امبولانس: ۱۱۳

pashto tvangsekteskap

اجباري واده

په ناروې کښې صرف د خپلي خوښنه نکاح منل کيږي

اجباري نکاح د مجازاتو وړ ده.

په ناروې کښې هغه قراردادونه اعتبار نلري کوم چي د مور او پلار او يا د نورو مشرانو لخوا د هغه

[pashto]

ماشومانو په نمايندګي کښې تړل کيږي چې عمر ئې د ۱۸ کاله څخه کم وي. هغه کسان چې د وادې په خاطر نورو باندې فشار راوړي، کيداى شي چې د حبس د مجازاتو سره مخامخ شي. هغه نکاح ګانې چې په زور باندې تړل شوي وي؛ د ناروې د راتک لپاره دليل نشي جوړيداى.